UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د ستراتیژیکو اړیکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی بیانیه
http://unama.unmissions.org

## د کوچني اختر د رارسیدو له امله د ملګرو ملتونو د استازي یان کوبیش د مبارکي پیغام

**کابل، د ۲۰۱۳ کال د اګست ۷ نیټه** - د کوچني اختر په درشل کې، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو په استازیتوب، زه ټولو افغانانو ته د زړه له کومې مبارکي په داسې حال کې وړاندې کوم چې دوي د روژې د مبارکې میاشتې وروستۍ ورځې نمانځي.

د روژی په مبارکه میاشت کې افغانانو روژه نیولي وه، څو د ګډو دودیزو او مذهبي ارزښتونو لپاره خپله ژمنتیا څرګنده کړي، او د دغه وخت د درناوي لپاره یی له ځان څخه صبر او حوصله ښودلې ده.

که څه هم په تیرو ۳۰ ورځو افغانانو تاوتریخوالی او مصیبتونه تجربه کړل، زه هیله من یم چې کورنۍ او دوستان د هیواد په ګوټ ګوټ کې سره راټول شي او دغه ځانګړې خوښي پرته له وینی تویدنې، ځانمرګي بریدونو، چاودنو او نفرت څخه په یوه لیرې چاپیریال کې ونمانځي، اود دغه مناسبت نمانځنه په سوله ییزه روحیه، ښه نیت او همغاړیتوب په فضا کې تر سره شي.

زه هیله من یم چې دغه سوله ییزه روحیه ، ښه نیت او همغاړیتوب به د دي مذهبی ورځي په زړه کې ملي هڅې پیاوړی کړي چې سوله افغانستان ته راشي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو په استازیتوب ټولو افغانانو ته د اختر مبارکي وایم.

---

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**